د افغانستان اسلامي امارت

**د چارو اداري لوی ریاست**

د لارښوونو او حکمونو د تعقیب ریاست

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د دفتر ریاست

کڼه: ۵۲۷۷
نېټه: ۱۴۴۷-۳-۲۸

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ محترم وزارت ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

**موضوع: د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لوړ مقام د ۱۴۴۷/۳/۲۴ نېټې (۲۰۳۳/۷۸۷) ګڼه حکم ابلاغ**

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ۱۴۴۶/۱/۲۱ نېټې (۳۶۲/۹۸) ګڼه حکم تحقق په موخه، د یاد وزارت د ۱۴۴۶/۸/۳ نېټې (۱۶۷۰) ګڼه لیک له مخې په ۱۴۰۳کال کې د مازاد غنمو اخیستلو او زېرمه کولو په اړه د کړنو او لاسته راوړنو راپور، عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لوړ مقام ته وړاندې سوی او عالیقدر لوړ مقام یې په اړه داسې فرمایلي دي:

**"وکتل سو! وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! وبعد: د اداري دوهم نظر تائید دی! والسلام"**

د اداري دوهم نظر په دې توګه دی: د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت دې راتلونکو کلونو کې د بزګرانو مازاد ضرورت غنمو د اخیستلو او زېرمه کولو په برخه کې خپله طرح د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء محترم اقتصادي معاونیت له لارې طی مراحل کړي او له تائید وروسته دې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی مقام ته وړاندې کړي.

له دې لیک سره یو ځای مو یاد حکم او اړوند اسناد په (۲۷) پاڼو کې تاسو ته ولېږل، هیله ده چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لوړ مقام د پورته ګڼه حکم سره سم اجراات تر سره کړئ. والسلام.

**شیخ الحدیث نور الحق انور**

**د ا.ا.ا د چارو اداري لوی رئیس**

قید وارده: ۱۳۷۳
۱۴۴۷/۳/۲۸

کاپي:

- د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اقتصادي محترم معاونیت ته!
- د مالیې، اقتصاد، د صنعت او تجارت محترمو وزارتونو او د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت محترم لوی ریاست ته؛
- د افغاني سرې میاشتې محترمې ټولنې او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي محترمې ادارې ته!
- د امارت د پالیسی محترم معاونیت د پلان، ارزونې او د امارت راپورونو تحلیل محترم ریاست ته د خبراوي په موخه او
- د حکمونو او فرمانونو د ثبت محترم امریت ته.

پته: د افغانستان اسلامی امارت د چارو اداری لوی ریاست، مرمرینه مانۍ، کابل - افغانستان Website: www.aop.gov.af Tel: 0202143367